# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

دوشنبه د ۱۳۹۹ د وري دریمه | د ۲۰۲۰ د اګسټ ۲٤مه | ۵۸۵یمه ګڼه


## ولایت

۴ مخ

### خوست

خوست د دنګو غرونو په لړلو سربېره، هغه ولایت دی چې خلک یې تر ډېر پر کرهڼه بوخت دي. د دغه ولایت خلکو په دې وروستیو کې زده کړو ته مخه کړې ده چې اوس پکې له ۳۰۰ زیات ښوونځي فعالیت لري.



### چارواکي: روان کال د ننګرهار د خرماوو حاصلات درې برابره ډېر شوي دي



د ننګرهار چارواکي وايي چې روان کال کې د دغه ولایت د کانال برخې د خرماوو بڼونو په تولیداتو کې درې برابره ډېروالی راغلی دی. د دغه ولایت ویاند عطاءالله خوګیاڼي رسنیو ته ویلي چې سږ کال به د کانال د خرماوو حاصلات پنځو ټنو ته ورسیږي. د ننګرهار په کانال کې د خرماوو بڼ دولتي ملکیت دی چې نږدې ۴۰ جریبه پراخ او د شپږو ډولو خرماوو ۲۷۰۰ بوټي پکې ولاړ دي. چارواکي وايي چې په ننګرهار کې په عمومي ډول د خرماوو بڼونه ډېر او حاصلات یې هم د پام وړ دي، خو کره کچه یې تر اوسه نه ده په ډاګه شوې.

خوګیاڼي ویلي: «په عمومي ډول په ننګرهار کې د خرماوو ګڼ بڼونه جوړ شوي، خو زموږ سره یې د تولیداتو د کچې او د بوټو کره شمېر په اړه معلومات نشته.»

دا په داسې حال کې ده چې پر ننګرهار سربېره خرما په فراه، هلمند، لغمان، نیمرزو، کندهار او خوست ولایتونو کې هم کرل کېږي او ښه حاصلات ورکوي.

# د سولې مبهم برخلیک؛

## د چارو شنونکي: د حکومت نه ژمنتیا او کمزوري مدیریت جګړې شدیدې کړې دي



۳

د ولسمشر بې مسوولیته څرګندونې

۲ مخ

د غزني بودايي سمڅې

۲ مخ

د سعودي عربستان- پاکستان د اړیکو ترینګلتیا

۳ مخ

### طاهریان: په افغانستان کې رواني نښتې او تاوتریخوالی د جدي اندېښنې وړ دی

ایران وايي، په افغانستان کې اوسنی تاوتریخوالی د جدي اندېښنې وړ دی او دوی د سولې په برخه کې همکارۍ ته تیار دي. د افغانستان لپاره د ایران ځانګړي استازي ابراهیم طاهریان په تازه څرګندونو کې ویلي چې د افغانستان د پلازمېنې په ګډون په ګڼو ښارونو کې تاوتریخوالی او نښتې ډېرې شوې دي چې دا مسئله د اندېښنې وړ ده. د هغه په خبره، د دې اړتیا ده چې د سولې مشورتي لویې جرګې پرېکړې عملي شي او په افغانستان کې د بین الافغاني خبرو لپاره زمینه برابره کړل شي. طاهریان دغه راز ویلي چې ایران د مذاکراتو او سولې په برخه کې له افغانستان سره هر ډول همکارۍ ته تیار دی او د دې غوښتونکی دی چې ژر تر ژره دلته روان تاوتریخوالی پای ته ورسېږي. د ایران دا څرګندونې داسې مهال دي چې په دې وروستیو کې د سولې په تړاو د هڅو له زیاتېدو سره هممهاله په هېواد کې جګړو او نښتو هم زور اخیستی دی. بلخوا ناټو وايي، دوی له افغان پوځ او افغان حکومت خپل ملاتړ ته ادامه ورکوي. په افغانستان کې د ناټو ملکي استازي سټېفانو پانتیکورو له ولسمشر غني سره لیدلي او پر بېلو مسایلو یې خبرې کړې دي. د ارګ له مطبوعاتي دفتره په خپره شوې اعلامیه کې راغلي، د ناټو ملکي استازي په دې لیدنه کې ټینګار کړی چې له افغان حکومت او افغان پوځ به د ناټو ملاتړ دوام لري او د ناټو سرتېري به له افغان پوځ سره اوږه په اوږه د ګواښونو پر وړاندې مبارزه کوي. سټېفانو همدا راز ټینګار کړی چې ناټو د افغانستان د سولې په مسئله کې هم هېڅ راز همکاري نه سپموي.

### طالبان دې له خپل اړخه داسې اقدامات وکړي چې د بین الافغاني خبرو پیل ته زمینه برابره شي



۵ مخ

### هفده گروه جامعه مدنی یک بسته اصلاحی را به کمیسیون مستقل انتخابات و حکومت پیشنهاد کرده‌اند



هفده گروه جامعه مدنی در کابل یک بسته اصلاحی را به کمیسیون مستقل انتخابات و حکومت افغانستان پیشنهاد کرده‌اند.

در این بسته با اشاره به تجربه‌های ناکام انتخابات گذشته موارد اصلاحی در ۱۳ بخش سفارش شده که به گفته نویسندگان آن، با یازده کارشناس انتخاباتی در این باره مشورت و گفتگو شده است. ناکارآیی و خرابی وسایل بایومتریک، مشکلات موجود در فهرست رأی‌دهندگان، نفوذ سیاسی بر کمیسیون، گزینش سلیقه‌ای اعضای نهادهای انتخاباتی و عدم آگاهی عمومی در این زمینه از مواردی است که در انتخابات قبلی به عنوان ناکامی ذکر شده است. خلیل رؤوفی، عضو این گروه، به خبرنگاران در کابل گفت: «آموختن از تجربه انتخابات گذشته است، موضوع مشارکت عمومی است. بخش دیگر تعدیل قانون انتخابات است. بخشی که در قانون انتخابات اصلاح شده ما در آن باره سفارش‌های خود را داشته‌ایم. چگونگی کمیته گزینش است. بخش گزینش کمیشنرها، کمیشنرهایی گذشته که همه کارها را انجام دادند، پاسخی به مردم ندادند.»

در این بسته پیشنهادی ۲۲ صفحه‌ای در باره این مشکلات نیز پیشنهادهایی مطرح شده است. آقای رؤوفی با اشاره به انتخابات ولسی جرگه در ولایت غزنی گفت: «پیش‌نویس طرح انتخاباتی که توسط کمیسیون انتخابات (به کاخ ریاست جمهوری ارائه شده است) مبهم است.» آنها می گویند پیش‌نویس انتخابات ولسی جرگه در ولایت غزنی بدون مشورت با جامعه مدنی به کاخ ریاست جمهوری ارسال شده است.


Aksos Book Store

اکسوس کتابپلورنځی

کتاب مو د ژوند ملګری کړئ



Aksos

کابل دریمه ناحیه، د دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

aksosbookstore@gmail.com

دریځ

## د ولسمشر بې مسوولیته څرګندونې

ولسمشر غني ورمه شپه په ارګ کې په یوه فرهنګي غونډه کې ویلي چې شل کاله وړاندې په افغانستان کې لس کسان نه پیدا کېدل چې په پښتو او دري ژبه لیکل وکړي. ولسمشر تر دې وړاندې له یوې بهرنۍ رسنۍ سره په مرکه کې ورته څرګندونې کړې وې.
د ولسمشر غني دا څرګندونې په افغانستان کې د لیکوالو او فرهنګیانو له توند غبرګون سره مخ شوې او وايي چې ولسمشر بیا بیا په خپلو دغو خبرو سره د افغانستان فرهنګیانو، لیکوالو او آن افغان ولس ته سپکاوی کوي.
د ولسمشر خبرې ښیي چې هغه نه یوازې د افغانستان له فرهنګ څخه ناخبره دی، بلکې په دې هم نه پوهېږي چې شل کاله وړاندې په افغانستان کې داسې عالمان اوسېدل چې د ځینو ژوندیو یې اوس هېڅ سیال نشته او د وفات شوو ځای یې لا هم تش دی چې په تېرو شلو کلونو کې د هغوی په سویه عالمان پیدا نه شول. شل کاله وړاندې چې محمد اشرف غني له امریکا کابل ته راغی، په کابل کې د علامه عبدالشکور رشاد، سرمحقق عبدالله بختاني خدمتګار، استاد حبیب الله رفیع او ګڼو نورو فرهنګیانو او لیکوالانو په شان ستر لیکوالان او فرهنګیان وو چې نه یې بدیل پیدا شو او نه یې هم چا تر اوسه تشه ډکه کړې ده.
ولسمشر هڅه کوي چې په هر څه کې خبرې وکړي او معلومات ورکړي، له همدې امله پرله پسې نه یوازې تېروتنې کوي، بلکې ځان مسخره کوي او آن کله کله ځینو خلکو ته سپکاوی هم کوي. نوموړی ډېری وختونه په اسلامي مسایلو کې خبرې کوي، چې بیا لویې او نه جبرانېدونکې تېروتنې وکړي. کله بیا په ادبیاتو او فرهنګ خبرې کوي، خو که څوک یې خبرې او متن لوستل ګوري، نو سړی فکر کوي چې ښایي پښتو او دري یې مورنۍ ژبې نه وي او یا یې هم دا ژبې نوې او نیمګړې زده کړې وي. هغه نه یوازې ښې خبرې نه شي کولی، بلکې آن لیکلی متن هم نه شي لوستلی. بیا چې کله خبره شعر او شاعرۍ ته ولاړ شي، نو داسې تېروتنې وکړي چې د طنزي پروګرامونو او خندا لپاره مواد برابر شي.
انسان نیمګړتیاوې لري او هېڅ انسان په هره برخه کې پوره نه دی او نه هم له چا دا تمه وي، خو ولسمشر هڅه کوي ځان په هر څه کې پوره وښیي. ستونزه یوازې دا نه ده چې هغه تېروتنه کوي، بلکې ستونزه دا ده چې ځینې خبرې یې د زغم وړ نه دي. د نوموړي وروستۍ خبرې سلګونو او زرګونو فرهنګیانو او آن سلګونو زرو هغو کسانو ته سپکاوی دی چې شل کاله وړاندې په افغانستان کې اوسېدل، پښتو او دري لیکل یې کولی شول او په سختو شرایطو کې اروپا او امریکا ته ونه تښتېدل، بلکې همدلته د خپل ولس په څنګ کې پاتې شول، خپلې ژبې او فرهنګ ته یې خدمتونه وکړل.
د ولسمشر فرهنګي سلاکاران او شاوخوا کسان دې نوموړي ته ووايي چې نور دا سپکاوی بند کړي. خلک که ترې دې کار تمه نه لري او نه یې ور رسوي، نو لږ تر لږه دا مهرباني دې وکړي چې نور خلکو ته دا ډول توهین ونه کړي. محمد اشرف غني باید پوه شي چې ولسمشر دی او د یو ولسمشر په حیث دې له بې مسوولیته او له سپکاوي ډکو خبرو څخه ځان وساتي. هغه ته پکار ده چې د یو ولسمشر په توګه خبرې او چلند وکړي او خپل ولس ته درناوی ولري.

# د غزني بودايي سمڅې

صفیه حلیم

د ۲۱مې میلادي پېړۍ په سر کې نړۍ د بامیانو د ماتو مجسمو په ویر اخته وه او د ایټالوي لرغون پوهانو یوې ډلې د غزني په سمڅو کې څېړنې کولې.
دوی لومړی «نی کلا» ته ورغلل چې د عرب حملو په وخت دا غار د زابلستان د واکمنو پنا ځای و. په ۹مه پېړۍ کې د یعقوب بن لیث نه په تیښته شاهي ټبر هم په نی کلا کې میشت و. وروسته دوی ونیول شول او ځینو یې اسلام ومانه. د نی کلا او ورڅېرمه غارونه د شهزادګانو د خوندي ساتلو ځایونه وو. کله چې حاکمان د جنګ لپاره میدان ته وتل، نو شاهي خزانه او زامن به یې نی کلا ته ورواستول. غزنویانو دا د شاهي ذندان په توګه کاراوه. د سلطان مسعود درباري شاعر سعد سلیمان او پخپله د سلطان مسعود زوی هم دلته بندي وو. دلته د تالا بیګم په نوم یو زیارت له غزني نه د «ناور دښتې» ته په لاره ښکاري.
د ایټالوي لرغون پوهانو د ډلې مشر «جیواني ویرادري» لیکي چې د ځمکې طبعي پیښو دغو سمڅو ته د تلو لارې هم اړولې دي. د غزني په غرونو کې د زلزلو او د واورې د توپانونو له کبله تیرې چودېدلې او په ځینو ځایو کې یو لوی درز (چود) غر په دوو برخو ویشلی دی. په دې د غرونو شکل هم اوښتی دی.
د غزني غارونه له ۳مې تر ٦ مې پېړۍ، بودايي راهبانو توږل چې مستطیل شکل او دننه ګنبدي چت لري. دغسې جوړښت د بامیانو په سمڅو کې هم لیدل کېږي. د پلټنو لپاره دغو پوهانو هره سمڅه په نمبر (شمېره) په نښه کړه.
لومړۍ سمڅه په صنوبر تپه کې او دویمه په سنګدره کې ده. په غار کې دننه دیوالونه داسې توږل شوي چې تر چت یې «پرې» یا د وزر بڼه اخیستې او د ساساني جوړښت اغیز ښیي. هغه سمڅه چې په غر پورې یې ډېره نه ده لګولې، دننه دېوالونه یې تر چت د وزرو په شکل راوتلي وي. په دې د غار چت لږه برخه ناتوږلې پاتې ده.
د دویمې سمڅې بهرنۍ جوړښت ټول خوندي و، خو په نورو غارونو کې د لوګي د توروالي تر شا سور رنګ ښکارېدو. په دویمه نومره غار کې د یو اس نقش و چې په غاړه یې امیل او په تندي د ویښتو څټوکۍ دی. د یوناني هنر دغسې یوه بېلګه په بیروت کې هم شته.
د ځینو غارونو په دیوال درې ځلې پلستر شوی و چې پکې بوس او خته دواړه ګډ وو. دا ښايي چې بودايي راهبانو دغه سمڅې ښې ساتلې. د دیوالونو هغه پلستر چې د «ګوټ» بنۍ یا رپ یې جوړاوه، د ګندهارا د لومړۍ دورې (۲ میلادي) نښه وي. په تپه صنوبر سمڅو کې خلک تر ۱۹۷٦ م کال پورې اوسېدل او په معبدونو کې یې پروړ او بوس ساتل چې ښايي د ګودام په توګه یې ترې کار اخیست.
په سمڅو کې د بودايي عبادت ځایونو لویه جوپه د قره باغ او جاغوري په غونډیو له لرې نه په یو اړخ ښکاري. «شاه کوه» رود د «جیلګه» سیند یوه څانګه ده او د دې یوه دره «زردالو» تنګی نومیږي.
«دلته په ۸مه نومره غار کې څوکه دار محرابونه لیدل کیږي چې د بودايي دین د «چېتیا» جوړښت نښې دي. ۹مه نومره غار ځانګړی دی چې د مراقبې او یا د امن ځای او دومره لوی دی چې د دې بېلګه نه په دکن، نه په چین او نه په بامیانو کې لیدل کیږي».
له زردالو درې تر تېرېدو وروستو لرغونپوهان شمال- لوېدیځ کې د «تمکي ناوه» ته ورغلل، نو د تیږو یو جوړښت یې ولیدو چې د سختو بادونو له کبله یې مخه رژېدلې وه. دا د «کوه هومي کلا» نومېږي چې له ځمکې ۲۸۱۷ میتر لوړه وه. دلته په ځینو غارونو کې د راهبانو د مراقبې لپاره له دیوال سره چاپیره د ناستې ځایونه او د ورختلو لپاره پرې څلور پوړۍ جوړې وې. د شاه خواجه سیمه درې تپې لري چې جاغوري ته د تلونکي سړک پر ښي لاس د «لومان بازار» سره دي. له دې تر ټولو لوړه تپه، د تیږو جوړښتونه او څو غارونه لري چې زیات یې له خاورو ډک شوي وو.
د تپې په سر کې د خښتو دېوالونه ښايي چې دا د تیرېدو لارې (کوڅې) وې. دغه دیوالونه په بېخ کې له پخسې (ختې) او د پاسه بیا د دوو برخو په کچه (خامو) خښتو جوړ وو. دلته د مجسمو او ډیوه ایښودلو لپاره طاقچې هم دي. دا سیسټم د شاه بهار په ۵۳ نومره غار او د ګلدرې په خانقاه کې لیدل کېږي او ثبت دي. تر ټولو لوی غار ښکته د نورو جوړښتونو په منځ کې او تر چت له خاورو او ګټو ډک و. جیواني لیکي: «څه چې مو ولیدل، هغه په دیوال په یو قطار کې وړې طاقچې او په منځ کې یې هغه بنۍ ده چې یو وخت د مجسمې د ودرولو لپاره کارېده. کیدای شي د دې طاقچو د قطار لاندې دغسې بل قطار هم وي چې اوس په خاورو پټ دي. د دې خبرې امکان شته چې دا به د بودا ۱۰۰۰ مجسمو غار وي چې یو وخت یې ډېر رواج و».
د چین «وای» سلطنت لخوا په سمڅو کې د زرګونو بودايي مجسمو ساتل په نورو ځایونو کې د دین یو مهم سمبول ګرځیدلی و. په افغانستان کې په بل یو ځای کې هم داسې غار یا وهارا تر اوسه نه دی موندل شوی چې د دې غار په شان پکې د بودا بې شمېره وړې مجسمې په ساده طاقچو کې اېښودل شوي وي. خو د هګۍ په شکل رنګ شوي ځایونه شته چې پکې د ګچو جوړې مجسمې لګول شوې دي. یوه بېلګه یې په بامیانو کې د ۱٦۴ نومره غار چت دی.
غار «سخي نوک» د غارونو یوه وړه جوپه د ګوارګین سیند په چپ لاس کې لیدل کیږي. دا ځای «باریک» ته نږدې او د سیند پر بله غاړه له سخي نوک څخه پنځه کلومتره لرې ده. د سپین غر شمال ته نږدې د دریو غارونو دغه جوپه خانقاوو له دورې نه وروسته اباده شوه، چې د بودایانو له وتلو وروستو هم پکې انسانانو ژوند کړی دی.
یوه بله لرغونې سیمه «کوه ایل» نومېږي. له تیږې جوړ شوی دا تخت د «ناوه قلندري» له بیدیس کلي نه بره لوېدیځ لوري ته په غر جوړ دی.
«غار شاه» د «قل ایلیاد» په کلي کې ۷ سمڅې په ۳ پوړو کې هم شته. له تپه حصار نه ورته د پښو لاره تللې ده او د بایک د غره لمنه ترې راتاو ده. هلته د رسیدو لپاره سړی د قل شاه له مردان نه تیریږي.
ناوه خدایداد ته نږدې کلیو او تپه حصار او بالا خانه کې د بایک او لالا خیل غارونه د دریا الواده څنګ کې کوتل ریګ غاړې ته نږدې دي. د زیتون تپه هم د لویو خانقاوو لپاره مشهوره ده او د دې په سمڅو کې یو بل د پاسه دالانونه جوړ دي، چې د «باسول او فولادي» سمڅو ته ورته دي. د دې ځانګړتیا دا ده چې په لوی لاس پلان شوي دي. بله دا چې ټول غارونه نیمګړي پاتې دي یانې جوړوونکي یا خو د افت له کبله وتښتېدل او یا پرې بل باچا راغلو او دا ځای یې ورته پرېښودو. دا د دې ځای د تاریخ ثبتولو او د نېټې د معلومولو لپاره یوه مهمه نښه ده. له څو وړو کوټو پرته چې په څلورم پوړ کې دي او ښايي د بودايي راهبانو استوګن ځایونه وو، نور ټول د عبادت نښې لري. په دې کې ځینې دومره لوی دي چې نه یوازې په افغانستان؛ بلکې په ټوله مرکزي اسیا کې ساری نه لري.
په غزني کې د هغو دوو سټوپو یادونه هم باید وشي چې یو شاه بهار (تپه سردار) ته نږدې په «کوه پهلوان» کې وه. بله سټوپا جغتو ته تلونکې د قافلو په لاره ډېره پخوا ویجاړه شوې ده. غزنی د ګندهارا تمدن یو مهم مرکز و چې شاوخوا ۳ لکه توکي پکې وموندل شول.

# له کرونا سره هممهاله اورلګېدنه؛

## د امریکا په کالیفورنیا ایالت کې سختې اورلګېدنې لسګونو کسانو ته مرګ ژوبله اړولې ده




د امریکا په کالیفورنیا ایالت کې د سختې اورلګېدنې له امله لسګونو کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده. د راپورونو له مخې، په دغه اور لګېدنه کې تر دې دمه څلور تنه مړه شوي او له ۵۰ ډېر ټپیان شوي چې د اطفايې کارکوونکي هم پکې شامل دي.
د راپورونو له مخې، دا تاریخي اورلګېدنه تر ۲۰۲۰ کیلو مترو مربع سیمو پورې رسېدلې او لاهم په چټکۍ سره د پراختیا په حال کې ده.
په ورته وخت کې د کالیفورنیا والي ګېون نیوسام وايي چې د امریکا د نورو ایالتونو سربېره یې له کاناډا او استرالیا څخه هم مرسته غوښتې چې دا اور ورسره مړ کړي. نوموړي ویلي چې د استرالیا په ځنګلونو کې د اورلګېدو تر ټولو بدې پېښې کېږي او استرالیا په دې برخه کې ښه تجربه لري.
د کالیفورنیا والي دغه راز وايي چې اور په شمالي کالیفورنیا باندې هم بد اغېز کړی او لسګونه زره خلکو خپل کورونه پرېښي او سلګونه کورونه او ودانۍ ویجاړې شوې دي.
نیوسام ویلي: «موږ په ډېرو کلونو کې داسې اور نه و لیدلی. دغه اور زموږ منابع او پرسونل سره وېشلي (بوخت کړي) دي.»
په ورته وخت کې چارواکي وايي چې د کالیفورنیا د «ریډووډ» په سیمه کې هغه ونې هم د سوځېدو له خطر سره مخ دي چې سلګونه کاله لرغونتوب لري.
پر دې سربېره، د «ریډووډ ایالتي پارک» ته نږدې یو شمېر ودانۍ هم سوځېدلې دي.
بلخوا د متحده ایالتونو ولسمشر ډونالډ ټرمپ د کالیفورنیا ایالت چارواکي په دغې اورلګېدنې کې ګرم بللي او ویلي دي چې د اور د مخنیوي لپاره یې د هغه سپارښتنې له پامه غورځولې دي.
ټرمپ ویلي: «ما د کالیفورنیا چارواکو ته وویل چې تاسو خپلې ځمکې او خپل ځنګلونه پاک کړئ. په دغو سیمو کې له ډېرو کلونو راهیسې وچې پاڼې او پرې شوې ونې پرتې دي او داسې دي لکه د اور شغلې، چې لاس ور وړې، لمبه کوي.»
د یادونې ده چې تر دې وړاندې هم روان میلادي کال په استرالیا کې سختې اورلګېدنې خلکو ته درانه مالي او ځاني زیانونه واړول. دغه راز په یاده اورلګېدنه کې په میلیونونو حیوانات مړه شول او په لکونو کسان د خپلو سیمو پرېښودو ته اړ شول.

# د سعودي عربستان- پاکستان د اړیکو ترینګلتیا

لیکنه: فریدالله ځاځی

وروستی برخه:

په دې وروستیو کې پاکستان د ځینو اقداماتو په تر سره کولو سره سعودي عربستان پر ځان باندې بې باوره کړی. کله چې سعودي عربستان له پاکستان څخه د یمن جګړې ګډلو لپاره د ډېر پوځي ځواک غوښتنه وکړه، راولپنډۍ د دوی غوښتنه په قصدي ډول د (هو او رد) ځواب لپاره پارلمان ته ولیږله چې د پارلمان لخوا رد شوه او هم یې خپل پوځي ځواک د پاکستان په مختلفو سیمو کې د تروریزم خلاف عملیاتو کې مشغول وساته، چې د ټولو عملیاتو بڼه یې نمایشي وه؛ خو د سیاسي ډیپلوماسۍ غږ یې پورته کړ او هم د پاکستان په مختلفو ښارونو کې د سعودي په ملاتړ غونډې پورته شول، چې مونږ له سعودي عربستان سره په هر حال کې ولاړ یو، چې بالاخیره پاکستان په ۲۰۱۸م کال کې تقریباً تر زرو (۱۰۰۰) پورې پوځي ځواک د مکې معظمې امنیت خوندي ساتلو په نوم ورولیږه؛ ځکه چې د پوځ مشري او واک ته نوی جنرال باجوه راغلی و او په دې سره یې د سعودي عربستان د شاهي کورنۍ یو څه اعتبار لاسته راوړی و؛ خو په ورته وخت کې پاکستان د ایران له دښمنۍ څخه هم د ځان ساتلو لپاره کوښښ کاوه. چین ته یې په اقتصادي دهلیز کې د ګوادر بندر په ورکولو سره د متحده عربي اماراتو ستراتیژیکو ګټو ته په زیان تمامېدلی شي چې له دې سره هم د دوی اړیکې د زوال په لوري وې چې بالاخره له ډېر وخت سیاسي هلو ځلو او د پوځ په مستقیمې همکارۍ په لومړي ځل د عمران خان (تحریک انصاف) ګوند د پاکستان په ۲۰۱۸م کال کې ملکي حکومت واک لاس ته ورغی، چې له دې څخه مخکې عمران خان تحریک انصاف ګوند هیڅ حکومت نه و کړی او عمران خان هم په نظریاتو کې له نورو ګوندونو څخه مختلف و، چې د همدې نظرونو له امله یې ځانته پاملرنه د سیمې او نړۍ په کچه پیدا کړې وه او هم عام خلک ورته خوشبین وو چې عمران خان به پاکستان له شته اقتصادي بحران او سیاسی بې ثباتیو څخه وباسي؛ خو داسې ونشول. عمران خان چې اقتدار ته ورسید، پوه شو چې پاکستان له سختو اقتصادي ستونزو او چلینچونو سره مخ دی چې له دې سره په مبارزه کې پاکستان ډېرو مالي مرستو ته ضرورت لري. هغه په همدې خاطر لومړی سفر ریاض ته وکړ او د شاهي پاچا او ولیعهد وزیر دفاع محمد بن سلمان څخه یې مرسته وغوښته چې ریاض ورته تر دریو بلیون ډالرو ورکولو ټېر وواهه او هم یې وویل چې د دریو بلیون ډالرو په ارزښت به تیل پاکستان ته ورکړي، چې همداسې وشول. محمد بن سلمان په ۲۰۱۹م کال کې پاکستان ته سفر وکړ او تقریباً د ۲۱ بلیون ډالرو پانګونې ټېر یې وواهه چې د پاکستان په مختلفو برخو کې به پانګونه کوي. په دې وروستیو کې د دواړو هېوادونو سوداګري راکړه ورکړه تقریباً ۲،۵ بلیون ډالرو ته رسیږي، چې کوښښ کوي تر پنځو بلیون ډالرو پورې دا عواید لوړ کړي.

همدرنګه دواړو هېوادونو په ۲۰۱۴ م کال کې نوی توافق وکړ چې په افغانستان ، کشمیر او فلسطین کې به په ګډه سره سیاسي ثبات او سولیېزې فضا ټینګښت ته کار کوي، چې تر نن پورې سعودي عربستان په افغانستان او کشمیر کې د پاکستان ګټو خوندي کولو ته ارزښت ورکاوه. دوی به همدارنګه پاکستان په فلسطین او منځنی ختیځ کې د سعودي ګټو خوندي ساتلو ته لومړیتوب ورکاوه، سعودي عربستان په ۲۰۱۴م کال کې پاکستان ته تقریباً ۱،۵ بلیون ډالرو نوره قرضه هم ورکړه چې پاکستان د خپلې کرنسۍ ارزښت د ډالرو په مقابل کې وساتي، چې دغه مرسته د پاکستان مالیې وزیر لخوا د تحفې ورکړې په نوم یادېده او په مقابل کې پاکستانیان باید د سعودي عربستان دا احسان ومني.

د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي په یوه ټلوېزیوني مرکه کې سعودي عربستان ته اخطار ورکړ چې که اسلامي همکاریو سازمان غونډه د کشمیر په مسئله کې د پاکستان په ګټه راونغواړي، پاکستان به ورته بلمثل عمل وکړي. «هغو اسلامي هېوادونو څخه به سازمان جوړ کړي» چې له پاکستان سره خواخوږي دي. پاکستان د دې لپاره مخکې هم تر یو حده پورې کوښښ کړی چې د ترکیې، ایران، مالیزیا او نورو اسلامي هېوادونو په همکارۍ سازمان رامنځته کړي چې سعودي عربستان پاکستان ته جدي اخطار ورکړ، چې په دې کنفرانس کې برخه وانه خلي. اما د پاکستان وزیر اعظم عمران خان مالیزیا ته سفر لغوه کړ او د دې اخطار سره یې سمدستي سعودي عربستان ته سفر وکړ، خو د بهرنیو چارو وزیر یې ورلیږه چې د مالیزیا په هېواد کې د ایران، ترکیې او اندونیزیا مشران هم دې کنفرانس ته راټول شوي وو.

د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر له خبرو سره سعودي عربستان سخت غبرګون ښود او سمدستي یې له پاکستان څخه چې په ۲۰۱۸م کال کې یې د پاکستان له اقتصادي اختلاص څخه ساتلو لپاره سعودي عربستان د درې بلیون ډالرو او د دریو بلیون ډالرو تیل ورکولو مرسته اعلان کړې وه؛ د دې مرستو لړۍ یې بنده کړه او له دغو مرستو څخه یې یو بلیون ډالر ورکړل شوي وو چې بیرته یې له پاکستان څخه واخیستل چې پاکستان ورته له چین څخه راقرض کړل او همدرنګه یې د تیلو واردات هم پرې بند کړل . البته وروسته له دې څخه قریشي وویل چې دا د ده شخصي نظر و چې د پاکستان په پالیسۍ پورې اړه نه لري او همدارنګه د پاکستان د پوځي حکومت مشر جنرال باجوه په یو رسمي سفر سعودي عربستان ته ورسید، چې دا ځل ورته هغسې استقبال ونه شو څرنګه به چې مخکې ورته تشریفاتي استقبال کیده او داسې راپوړونه هم شته چې محمد بن سلمان لومړی د ده له لیدنې څخه معذرت وغوښت؛ خو وروسته په داسې حال کې ورسره ګوري چې د پاکستان سفیر په سعودي عربستان کې په دې لیدنه حاضر نه و. سعودي عربستان کوښښ کوي چې پاکستان له ترکیې، مالیزیا او ایران سره د نږدې اړیکو له لرلو څخه راوګرځوي؛ د قریشي نظر اوس نورې پوښتنې راپورته کړې دي. قریشي شاید دا خبرې د دې لپاره هم کړې وي چې سعودي عربستان مجبور کړي چې د پاکستان په ملاتړ د کشمیر په مسئله کې د اسلامي همکاریو سازمان راوغواړي؛ ځکه په دې شرایطو کې پاکستان داسې هلې ځلې هم شروع کړې دي، چې نړیوالو ته ځان صادق او رښتینی وښیي او هم د افغانستان په مسئله کې ډېر باور تر لاسه کړي او بیا له دې څخه د خپلو ستراتیژیکو اهدافو لپاره ګټه پورته کړي چې خپل ځان د ودې او پرمختګ لور ته بوځي او هم له شته اقتصادي بحران څخه ځان وساتي. په اوسنیو حالاتو کې ګورو چې د افغانستان پالیسي نسبت له اسلامي هېوادونو سره کمزوري پر مخ وړل کیږي. افغانستان باید چپ پاتې نشي، له دې حالاتو څخه ګټه واخلي او سعودي عربستان پاملرنه د افغانستان لوري ته کړي، چې د سولې بهیر کې له کابل څخه خپل قوي ملاتړ وکړي او هم له حکومت سره د مالي مرستو تر څنګ بشري، زېربینایي، ساختماني او پوځي مرستې وکړي او د کابل په لویو لارو جوړولو کې پانګونې ته یې تشویق کړي. که چیرته افغانستان په داسې سیاسي سیالیو کې چپ پاتې شي، دا چپ پاتې کیدل د افغانستان لپاره په زیان تمامیږي چې بیا به په سختو مسایلو کې له افغانستان سره خواخوږي نه وي او نه به خپلو مرستو ته دوام ورکړي. بهتره به وي چې کابل له شته حالاتو څخه د ځان په نفعه ګټه واخلي او هم د دوی پاملرنه د افغانستان په لوري کړي چې افغانستان اوس هم په مرستو ولاړ هېواد دی او هم به تر راتلونکې یوې یا دوو لسیزو پورې د نورو په مرسته ولاړ هېواد وي؛ ځکه چې افغانستان دومره عواید نه لري چې شته لګښتونه ادا کړي. که چیرته په رښتینې مانا د فساد په ضد جدي اقدام وشي، شاید بیا دې لګښتونو ادا کولو ته نږدې شو .

پای

# د سولې مبهم برخلیک؛

## د چارو شنونکي: د حکومت نه ژمنتیا او کمزوري مدیریت جګړې شدیدې کړې دي



په هېواد کې په وروستیو کې د جګړې شدت اندېښنې راپارولې دي. پر ولسوالیو بریدونه، هدفي وژنې، پر لویو لارو نا امنۍ او د طالبانو هدفمند تحرکات هغه څه دي چې د سولې لپاره له رامنځته شوي فرصت سره په ټکر کې ګڼل کېږي. بلخوا حکومت د طالب بندیانو په خوشي کولو کې پاتې راغلی دی او تر دې دمه یې هغه ژمنې نه دي پوره کړې چې له مشورتي لویې جرګې سره یې کړې وې. په حکومت کې کم‌کاري او کمزوری مدیریت بل هغه څه دي چې طالبانو ته یې د پرمختګ زمینه برابره کړې ده. له دې سره جوخت داسې ښکاري چې پاکستان هم د سولې په مسئله کې دوه مخی چلند کوي.

تازه پاکستان پر ځینو طالب مشرانو بندیزونه وضع کړل او همدا راز یې د ملګرو ملتونو له امنیت شورا غوښتي چې پر طالب مشرانو شته بندیزونه عملي کړي. د پاکستان د حکومت د بهرنیو چارو وزارت په یوه اعلامیه کې ویلي چې دوی پر ملا برادر او سراج الدین حقاني بندیزونه وضع کړي دي. دغه دوه کسان پاکستان ته نه شي ورتللی او همدا راز به یې شتمنۍ هم کنګل وي.

د پاکستان دغه ډول کړنې د سیاسي شنونکو په باور یوازې د پاکستاني حکومت د ګټو د تامین لپاره ترسره کېږي. سیاسي شنونکي په دې باور دي چې پاکستان د افغانستان د سولې په مسئله کې خپلې شخصي ګټې پالي او په دې هڅه کې دی چې دغه پروسه د ځان په ګټه وڅرخوي. د سیاسي چارو شنونکی حکمت الله حکمت وایي، د پاکستان دغه ډول کړنې نه یوازې دا چې د افغانستان د حکومت او سولې په اړه د پاکستان مغرضانه چلند په ګوته کوي، بلکې دا ثابتوي چې پاکستان تل د خپلو ګټو لپاره د افغان سولې پر وړاندې دوه مخې لوبه کړې ده. د ده په خبره: ((پاکستان تل دوه مخی چلند کړی دی چې له همدې امله موږ تر دې دمه سولې ته نه یو رسېدلي)).

بلخوا د سولې روان بهیر هم له مبهم حالت سره مخ شوی دی. د افغانستان د مسایلو یو شمېر څارونکي، طالبانو ته نږدې سرچینې او د سولې د برخې فعالین وایي چې د حکومت له لوري د زندانیانو نه خلاصون او پر ژمنو عمل نه کول هغه څه دي چې د سولې روان بهیر یې له خنډونو سره مخ کړی دی او جګړې یې شدیدې کړې دي. پخوانی طالب چارواکی سید اکبر اغا وایي، سوله ځکه له مبهم حالت سره مخ ده چې ولسمشر نه خپله ژمنه عملي کړه او نه یې هم د سولې مشورتي لویې جرګې پرېکړو ته ارزښت ورکړ. د ده په خبره: ((دا واقعیت دی چې د سولې مسئله ډېره مبهمه ده. د ابهام لامل یې هم دا دی چې ولسمشر د لویې جرګې پرېکړه ونه منله. دې مسئلې د سولې پروسه له خنډ سره مخ کړه. ملت باید را ولاړ شي او پر دواړو لورو غږ وکړي چې نور دې جګړه ودرول شي او سولې ته دې کار وشي)).

بلخوا د سولې د برخې فعالین او سیاسي شنونکي هم پر دې باور دي چې باید فرصت ضایع نه کړل شي. د سولې او پرمختګ اسلامي ګوند مشر حاجي دین محمد بیا وایي چې هېواد په حساسو شرایطو کې دی او باید ټول اړخونه روان وضعیت ته متوجه وي. د ده په خبره: ((هسې نه داسې کوم څه وشي چې موږ تر دې هم خطرناک وضعیت سره مخ کړي. موږ باید متوجه وو. ملت باید متوجه وي چې د سولې فرصت ضایع نه شي)).

بلخوا د سولې په چارو کې د دولت وزارت وایي چې دوی د بندیانو خوشي کولو ته ژمن دي، خو د ځینو هېوادونو د شکایتونو حقوقي اړخ ته باید توجه وشي، څو ټولې ستونزې حل شي او د رښتینې سولې لپاره زمینه برابره شي. د دغه وزارت ویانده ناجیه انوري وایي: ((موږ دې ته ژمن یو چې بندیان خوشي کړو، طالبان دې هم بندیان خوشي کړي، د شکایتونو حقوقي اړخ باید وڅېړل شي)).

له دې سره جوخت د سیاسي چارو شنونکي په دې باور دي چې د حکومت کمزوري مدیریت، د ژمنو نه عملي کول، د ځینو کړیو له لوري د طالب بندیانو په خوشي کولو کې خنډ جوړول، دا ټول هغه څه دي چې د جګړو د شدت سبب شوي او د سولې برخلیک یې له نامعلوم حالت سره مخ کړی دی.

# ارګ: له ترهګرۍ سره د پاکستان مبارزه په صادقانه او عملي اقداماتو پورې تړاو لري

افغان حکومت وایي، پاکستان باید پر طالب مشرانو خپل اوسني لګول شوي بندیزونه لا ډېر پخوا وضع کړي وای.

افغان حکومت دغه راز وایي چې د پاکستان هغه پرېکړه ستایي چې پر یو شمېر طالب مشرانو یې بندیزونه لګولي دي.

دا په داسې حال کې ده چې د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت د شنبې په ورځ ناوخته په یوه بیان کې وویل چې پر طالبانو د بندیز په اړه د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ۲،۲۵۵ نمبر پرېکړه‌لیک په بشپړ ډول اجرا کوي.

د دغه پرېکړه‌لیک پر بنسټ، د طالب مشرانو پر سفر، شتمنیو او وسلو بندیز لګول کېږي، خو ارګ وایي، پاکستان باید دا کار ډېر پخوا کړی وی.

د ولسمشرۍ ماڼۍ د ویاند مرستیال دوا خان مینه‌پال وایي چې د ترهګرۍ پر ضد مبارزه د پاکستان په صادقانه عمل پورې تړلې ده. هغه زیاته کړې: «له پاکستانه د افغان حکومت غوښتنه ډېره روښانه وه او ده، د ترورېزم ملاتړي او پټن‌ځایونه د دوی په خاوره کې دي. موږ له ترهګرۍ سره د مبارزې په برخه کې د پاکستان صادقانه او عملي اقدامات غواړو. د طالبانو د مشرتابه پر وړاندې باید ډېر مخکې داسې ګامونه اخیستل شوي وی. موږ بیا هم په خپل دریځ ټینګار کوو چې له ترهګرۍ سره مبارزه په صادقانه او عملي اقداماتو پورې تړاو لري.»

په ورته وخت کې طالبانو هم د پاکستان دې عمل ته غبرګون ښودلی دی. واشنګټن پوسټ ورځپاڼې په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر د ویاند سهیل شاهین له قوله لیکلي چې د مذاکراتي ټیم پر ټولو غړو بندیزونه د افغانستان د سولې بهیر له ستونزو سره مخ کولای شي.

خو شاهین له ازادي راډیو سره په خبرو کې ویلي: «دا بندیزونه مخکېني دي او د ملګرو ملتونو له‌خوا د سیاسي دفتر د مذاکراتي ټیم له غړو او مشرتابه دا بندیزونه څه موده مخکې موقتاً لرې شوي.»

د دې بندیزونو د عملي کېدو خبره داسې مهال مطرح کېږي چې امریکا له طالبانو سره د سولې هوکړه کړې او د بین‌الافغاني خبرو د پیل په اړه هم مثبت نظریات شته.

تازه اسوشیټېډ پرېس لیکلي، تمه ده د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو منځنۍ اسیا ته د خپل سفر پر مهال قطر ته هم ولاړ شي او هلته له طالب مشرانو سره له افغانستانه د بهرنیو عسکرو پر وتلو او د افغانانو ترمنځ د خبرو پر پیل بحث وکړي.

## د کتاب خبرې

# افغانستان او سیمه‌ییزه همکاري

## فرصتونه او ستونزې

◎ لیکوال : څېړندوی محمد سرور احمدزی

### لومړی فصل

### دڅېړنې کلیات




**لنډیز**

د نړیوالتوب په اوسني عصر کې چې نړۍ د یوه کلي حیثیت غوره کړی د نړۍ هېڅ هېواد نه شي کولای په یوازې خپلې ستونزې حل او خپلې اړتیاوې پوره کړي، له همدې امله د نړۍ په بېلابېلو سیمو کې د سیمې هېوادونو له یو بل سره د اړیکو او همکاریو د پراختیا او د خپلو اړتیاوو پوره کولو په موخه سیمه‌ییز سازمانونه جوړ کړي او په دې توگه د سیمه‌ییزې همکارۍ د پراختیا په موخه د نړۍ په مختلفو سیمو کې سیمه‌ییز سازمانونه رامنځته شوي. د سړې جگړې پر مهال سیمه‌ییزه همکاري د امریکا او شوروي اتحاد ترمنځ له سړې جگړې څخه اغېزمنه وه، خو په ۱۹۹۱ زکال کې د شوروي اتحاد له ړنگېدو وروسته د سیمه‌ییزې همکارۍ د پراختیا او د نویو سیمه‌ییزو سازمانونو رامنځته کېدو لپاره شرایط برابر شول .

افغانستان چې د اوږدې جگړې له امله ورته ډېر زیانونه اوښتي او له گڼو ستونزو سره مخامخ دی د خپلو ستونزو د حل او د خپلو اړتیاوو د پوره کولو په موخه یې د بېلابېلو سیمه‌ییزو سازمانونو غړیتوب ترلاسه کړی دی. د افغانستان جیوستراتیژیک او جیو پولیټیک موقعیت او د اقتصادي فرصتونو شتون له یوه لوري افغانستان د سیمه‌ییزې همکارۍ پر مرکز بدلولای شي او له بل لوري په افغانستان کې روانه جگړه، ناامني، د نشه یي توکو کښت او قاچاق او سازمان شوي جرایم، بې اعتمادي، سرحدي شخړې په افغانستان او سیمه کې د بحران او بې ثباتۍ د دوام سبب کېدای شي. تاپي، د افغانستان له لارې پاکستان ته د تاجکستان د بریښنا لېږد، په سیمه کې د ترانسپورتي لویو لارو او د اورگاډي د پټلیو جوړول، د چابهار او گوادر بندرونه، د چین او پاکستان اقتصادي کریډور(دهلېز)، د چین د یو دهلیز او یوې لارې پروژه، د وریښمو د نوې لارې پروژه او داسې نورې سترې اقتصادي پروژې چې له افغانستان او یا د افغانستان په گاونډ کې تېرېږي د سیمې اوسیدونکوته د کار موندنې، عایداتي فرصتونه او گډې سیمه‌ییزې اقتصادي گټې رامنځته کوي .

افغانستان د اسیا په زړه او څلور لارې کې موقعیت لري او له ډېرو پخوا وختونو راهیسې یې د سیمې د هېوادونو ترمنځ د پله حیثیت درلود د افغانستان په گاونډ کې د نړۍ مهم او ستر هېوادونه چې د هرې ورځې په تېرېدو سره یې په نړیوال اقتصاد او سیاست کې رول پراختیا پیدا کوي موقعیت لري چین، روسیه، ایران، هند، پاکستان او د مرکزي اسیا هېوادونه له افغانستان سره په گاونډ کې موقعیت لري،افغانستان د سیمه‌ییزو همکاریو د پراختیا او د سیمه‌ییزو سازمانونو د پیاوړتیا په صورت کې کولای شي له خپل موقعیت څخه په سمه توگه استفاده وکړي.افغانستان د دې ظرفیت او وړتیا لري چې د سیمه‌ییزو همکاریو په میدان بدل شي او د سیمې د هېوادونو ترمنځ د همکاریو د پراختیا په برخه کې مهم رول ترسره کړي . افغانسان د اسیا په زړه کې موقعیت لري او د مرکزي اسیا، جنوبي اسیا او منځني ختیځ څلور لارې گڼل کېږي. افغانستان له پېړیو راهیسې د سیمې د تمدن مرکز و له همدې امله افغانستان د مهمو سیمه‌ییزو سازمانونو غړیتوب لري .افغانستان د خپل ځانگړي جغرافیایي موقعیت له امله د سیمې د هېوادونو او سیمه‌ییزو سازمانونو لپاره ځانگړی ارزښت او اهمیت لري. له همدې امله ډېر سیمه‌ییز سازمانونه او د سیمې هېوادونه هڅه کوي له افغانستان سره خپلو اړیکو ته پراختیا ورکړي .

**سریزه**

سیمه‌ییزه همکاري څېرند دویمې نړیوالې جگړې له پای ته رسیدو وروسته په اروپا کې د نړیوالې همکارۍ د یو ډول په بڼې رامنځته شوه د وخت په تېرېدو د نړۍ د نورو سیمو هېوادونو له سیمه‌ییزې همکارۍ څخه په مختلفو برخو کې د دوه اړخیزو او څو اړخیزو همکاریو د یوې بېلگې په توگه گټه اخیستل پیل کړل او د نړۍ په بېلابېلو سیمو کې ځینو هېوادونو د دوه اړخیزو او څو اړخیزو اړیکو او همکاریو د پراختیا په موخه سیمه‌ییز سازمانونه رامنځته کړل . سیمه‌ییزو سازمانونو اصلي موخه د غړو هېوادونو ترمنځ د همکاریو پراختیا وه او ډېر تمرکز یې د غړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي او اجتماعي همکاریو د پراختیا په اړه و. د سړې جگړې پر مهال سیمه‌ییزه همکاري د شوروي او امریکا له سیالیو څخه اغېزمنه وه او د نړۍ هېوادونه ځینې له شوروي اتحاد او ځینې نور له امریکا سره ملگري وو، خو د سړې جگړې له پای ته رسېدو وروسته د سیمه‌ییزې همکارۍ د پراختیا لپاره زمینه او شرایط برابر شول او د نړیوال دوه قطبي نظام له پای ته رسېدو وروسته د سیمه‌ییزې همکارۍ د پراختیا او پیاوړتیا لپاره نوي فرصتونه او امکانات رامنځته شول .د نړۍ د ډېرو هېوادونو لپاره د دې زمینه برابره شوه چې د ایډیالوژیکو گټو او ارزښتونو پرځای خپلو ملي گټو ته لومړیتوب ورکړي او د خپلو گټو د خوندیتوب او د سیمه‌ییزې همکارۍ د پراختیا په موخه په خپلواک ډول اقدامات ترسره کړي. په لاتیني امریکا، افریقا، سویل ختیځې اسیا، سویلي اسیا او د دریېمې نړۍ په نورو وروسته پاتې سیمو کې د سیمه‌ییزې همکارۍ د پراختیا په موخه هڅې پیل شوې، خو په دې سیمو کې سیمه‌ییزې همکارۍ په اروپا کې د سیمه‌ییزې همکارۍ له ډول او بڼې سره ډېر توپیر درلود. په افریقا کې سیمه‌ییزه همکاري د سوداگریزو اقتصادي گټو او انگیزو پرځای تر ډېره بریده امنیتي انگېزې درلودې، خو د وخت په تېرېدو د سیمه‌ییزې همکارۍ نوې بڼه رامنځته شوه. نوې سیمه‌ییزه همکاري ډېر اړخونه لري چې پربنسټ یې په سیاسي، اقتصادي، اجتماعي او فرهنگي برخو کې د هېوادونو ترمنځ همکاري پراختیا پیدا کوي .

**دوام لري...**

# خوست

حشمت الله نوري

خوست د افغانستان له ٣٤ ولایتونو څخه یو هغه ولایت دی، چې د هېواد تقریباً په سوېل-ختیځ کې موقعیت لري، چې د طول البلد د ٦٩ درجو، ۳۹ دقیقو او ٥٨ ثانیو او شمالي عرض البلد د ٣٣ درجو، ٥ دقیقو او ٢٤ ثانیې په کرښه کې پروت دی.


دغه ولایت ٤٠٢٩ کیلومتره مربع پراخوالی لري او نفوس یې له یو میلیون څخه زیات دی. ۱۲ ولسوالۍ او د ښاروالۍ ۳ ناحیې او د کوچیانو ۳۰۰۰۰ کورنۍ لري. له غرونو ډک خوست د پاکستان قبایلي سیمې وزیرستان سره لگیدلی دی، چې له پاکستان سره (١٨٥) کلومتره گډه پوله لري او په راتلونکي کې به یو ښه ټرانزیټي ښار وي. خوست له پکتیا او پکتیکا سره لگیدلی دی چې د اوسني پاکستان له غلام خان څخه را پروت سړک له خوست څخه تیرېږي او گردیز ته رسیږي او بیا دغه سړک پلازمېنې کابل ته غځېدلی دی. دغه سړک له پاکستان څخه نورو را داخلیدونکو سړوکونو په نسبت ٤٣٣ کلومتره په کچه کم دی او د افغانستان د اقتصادي پرمختگ لپاره مناسبه لارده . خوست د نورو ولایتونو په نسبت ښه معتدله هوا لري او د ژوند د ډېرو چارو لپاره ښه مساعد ولایت دی.

د خوست ځمکې ښې حاصل خیزې دي، په زراعتي ځمکو سربېره ځنگلونه هم لري چې د بیلگې په ډول یې تنې، منگل، ځاځي میدان او د ځدراڼو ځنگلونو نومونه یادولی شو. له یادو شوو ځنگلونو څخه وچې میوې لکه چارمغز او جانغوزي په زیاته پیمانه لاسته راځي. د وچو میوو تر څنگ لمدې میوې لکه زردالو، الوچه، انار، مڼه او شفتالو هم د دې ولایت له زراعتي لاسته راوړنو څخه دي. زیاتره وگړي یې د مالدارۍ په برخه کې هم بوخت دي چې د ژوند ډېرې اسانتیاوې له همدې لارې پوره کوي. د کرهنیزو ځمکو او ځنگلونو د خړوبولو لپاره د طبیعي اوبو یانې سیند او باران اوبو څخه گټه اخلي او زیاتره سیمې یې رواني اوبه لري. په ځینو سیمو کې د بریښنا د تولید لوی او کوچني بندونه هم جوړیدای شي، په دې ولایت کې ډېر تاریخي ځایونه هم شته، له دې تاریخي ځایونو څخه د منگسو په سیمه کې د ایسار غونډۍ یادولی شو. د پخوانیو خلکو په خبره، دغه غونډۍ په مصنوعي توگه د انسانو په مټ جوړه شوې ده او غونډ جوړښت لري، د سیمې د خلکو په خبره، ځینې تاریخي اثار په دې غونډۍ کې پیدا شوي، چې د وخت په تیریدو یې خلکو پلورلي دي. د دې ولایت خاوره د اولیاوو کرامو او بزرگانو له برکته هم ډکه ده. د یادونې په ډول یې مشهور زیارتونه لکه کوکرک بابا، عالم شېر پیر، نصري اقا، آدمحمد، خواجه متون بابا او گلزار اقا یادولی شو . خوست پر ځنگلونو سربېره، طبیعي زیرمې هم لري چې په ځینو سیمو کې یې د چینې (Caco۳ ) ، اوسپنې، مسو، جستو او کرومېټ لرونکي ډېرې پیدا شوې دي. د کرومیټو ډېرو د ایستلو قرارداد هم شوی دی چې افغان دولت یې د کال ٦ میلیونه امریکایي ډالره گټه اخلي .

د فرهنگ عمید سیند پر بنسټ، د خوست لغوي مانا جزیره یا د دریاب په منځ کې وچې ته ویل کیږي، چې د فولکلوریکو روایتونو له مخې، په لرغونو زمانو کې هغه خوړونه چې د ځدراڼو، منگلو او تڼیو له غرونو رابهیدل، ټولې اوبه یې په خوست کې ډب کیدې او د وتو لار یې نه وه.

خوست پخوا د پکتیا ولایت اړوند یوه لویه ولسوالي وه او اوسنۍ ولسوالۍ یې د علاقه داریو په کچه وې، چې د ډاکټر نجیب الله د واکمنۍ پر مهال یې د ولایت کچې ته ارتقاع وکړه، چې دا مهال د دریو اداري واحدونو، شمل، متون او لکڼو په گډون، د سپېرې، دوه مانده، نادرشاه کوټ، اسماعیل خېل او مندوزي، تڼې، گربز، علیشېر، صبري، باک، ځاځي میدان، موسی خېل او قلندر په نومونو ۱۲ ولسوالۍ لري.

په خوست کې لوی واړه ١٥ قومونه مېشت دي، چې په دې کې منگل، ځدراڼ، تڼي، صبري، گربز، متون، لکڼ، علیشېر، تریزي، بابکرخېل، غلجي، اسماعیل خېل، مندوزي او ځاځي شامل دي.



کلتور

په خوست کې په منظم ډول د ادبي او فرهنگي هڅو پیل له استقلال ادبي ټولنې وشو. دغه ټولنه په ۱۳۷٦ لمریز کال کې د خوست په مرکز کې تاسیس شوه او له لارې یې په خوست کې لیکوالان، شاعران او فرهنگیان یو په بل پسې راپیدا شول او ورپسې د خوست د مرکز اړوند په لکڼو سیمه کې د محمدصدیق روهي او علیشېرو ولسوالۍ کې د عبدالباري جهاني په نومونو ادبي ټولنې جوړې شوې، چې دا مهال په خوست کې څه باندې ١٥ فرهنگي ټولنې شته او هره یوه یې د مشاعرو، غونډو، د کتابونو چاپ او په بېلابېلو لارو کې خپل فعالیتونه کوي.

په خوست کې د چنار په نوم کلنۍ مشاعرې هم له تېرو څو کلونو راهیسې پیل شوې دي، چې د هېواد له بېلابېلو ولایتونو او له کرښې هاخوا فرهنگیان او شاعران په کې گډون کوي.

په خوست کې دا مهال د مطالعې کلتور ډېر شوی او کتابتونونه هم ډېر دي، چې د خوست د اطلاعاتو او کلتور ریاست او شېخ زاید پوهنتون پر لویو کتابتونونو سربېره، ځینې فرهنگي ټولنې او مرکزونه هم توانیدلي چې کتابتونونه جوړ کړي او د دې ترڅنگ په خوست ښار کې تر ١٢ کتابپلورنځي هم شته، چې بېلابېل کتابونه او مجلې په کې پلورل کیږي.

په خوست کې د اطلاعاتو او کلتور په ریاست چوکاټ کې موزیم هم شته، چې د دغه ولایت له بېلابېلو سیمو څخه ورته لرغوني اثار او ځینې عجایب راوړل شوي او دا مهال ۳۰۰ اثار په کې ثبت او موجود دي.

په خوست ولایت کې تر ١٤ پورې د خطاطۍ او رسامۍ کورسونه شته، چې تر اوسه یې ډېر ځوانان په دې هنر کې روزلي دي. د خوست د ځانگړې موسیقۍ الات ډوول، سورنۍ او سرېنده دي، خو دا مهال په افغانستان کې د دود موسیقۍ ټول الات د هنري ډلو لخوا غږول کیږي او اوس اوس په خوست کې د سندرغاړو او هنرمندانو شاوخوا ١٣ ډلې شته، چې په ودونو، کوژدو، اخترونو، نوي کال او نورو ملي او تاریخي ورځو کې کنسرتونه تر سره کوي.

اتڼ چې د هېواد ملي نڅا ده، د لویې پکتیا او په ځانگړې ډول د خوست د خلکو لرغونی دود دی.

رسنۍ

په خوست کې لومړنۍ چاپي جریده د غازي په نوم ده، چې د غازي امان الله خان د واکمنۍ پر مهال له خوست څخه خپرېده، یوه گڼه یې د خوست په موزیم کې ساتل کیږي.

د خوست دولتي راډیو په ١٣٦١ لمریز کال کې تاسیس شوه او د خوست ټلوېزیون په ۱۳٦٥ لمریز کال کې په خپرونو پیل وکړ. سولې پیغام په نوم په کې لومړنۍ خپلواکه راډیو وه، چې د ۲۰۲ زیږدیز کال په پیل سره یې په خپرونو پیل وکړ، چې دا مهال د ولس غږ، هیلو کاروان، کلید او نن په نوم ځایي راډیوگانې د ایف ایم په څپو کې خپرونې کوي او دغه راز د غرغښت په نوم یو خپلواک ټلوېزیون هم شته، چې له تېرو څو کالو راهیسې خپرونې کوي.

خوست مجله چې دولتي خپرونه ده، لومړۍ گڼه یې په ۱۳۷۸ لمریز کال کې چاپ شوه او ورپسې د سمون، ژمنه، سوداگر، روغتیا او پیوستون مجلې دي چې دا مهال له پیوستون پرته یې ډېرې نورې نه خپرېږي.

د مزل، بېرۍ، گام، الماس، زانگو، ازانگه، غږ، الوېښ، غومبسه، اسلام غږ، مجاهد غږ، ځوان ځواک، زلمی، پرمختگ، مستربل، نوی گام او ځینې نورې پرله پسې له چاپه راووتې چې په دې کې هم ډېرې د لنډمهال لپاره وې او ځینې یې اوس هم چاپیږي. لومړنۍ ورځپاڼه د بریښنا په نوم وه، چې په خوست کې یې په خپرونو پیل وکړ، دا مهال د ملي احساس په نوم یوه دولتي ورځپاڼه هره ورځ له چاپه راوځي.

په دغه ولایت کې پر ملي ټلوېزیون سربېره، نور خصوصي ټلوېزیونونه هم خپرونې کوي او تر څنگ یې راډیوگانې هم فعالیت لري.

پوهنه

په خوست کې دا مهال ۳۰۰ ښوونځي دي، چې له جملې یې ١٤٣ لومړني، ٦١ منځني او ٨٧ یې لیسې دي چې هلکان او نجونې دواړه پکې زده کړې کوي.

د دولتي ښونځیو تر څنگ، په خوست ولایت کې اوسمهال خصوصي ښوونځي هم خپل فعالیت لري او د زده کړو په برخه کې یې ډېرو نجونو او هلکانو ته د زده کړو زمینه برابره کړې ده.

دیني مدرسې

خوست کې څه باندې ۲۱ دیني مدرسې دي او په دې کې یې ډېری له پوهنې ریاست سره ثبت دي.

پوهنتون

خوست پوهنتون چې د شېخ زاید پوهنتون په نوم یادیږي، په ۱۳۸۱ لمریز کال کې تاسیس شوی دی. ١٠ پوهنځي «طب، انجنیري، حقوق، اقتصاد، ښوونه او روزنه، ژورنالېزم، د ژبو او ادبیات، شرعیات او کمپیوټر ساینس. پوهنځي لري.»

کرنه

دا چې خوست د دنگو غرونو په منځ کې پروت ولایت دی، خو له دې سره سره بیا هم د کرنې لپاره مناسبې او وړ ځمکې لري. که تر ټولو لومړۍ د دغه ولایت په غرونو او د هغو په حاصلاتو لنډه کتنه وکړو، نو ښکاره ده چې د خوست غرونه د سون لرگیو د ونو تر څنگ، مېوه لرونکې ونې لري لکه، ځنغوزي (جلغوزي)، څېرۍ، ښوون (زیتون) گورگورې، د مزرو سکرې او چهارمغز چې په دغو کې له چهارمغز پرته نو ټول یې په غرونو او بیدیاوو کې را زرغونیږي او د هېڅا له خوا یې پالنه او ساتنه نه کیږي او د مېوو حاصل یې هم په کال کې یو ځل دی. شته. دغه راز د خوست په کرنیزو ځمکو کې جوار، غنم، وریجې، ممپلي او سبزیجات ښه حاصل ورکوي، چې د دغه ولایت د لرې پرتو سیمو ډېرى وگړي یې پر کر بوخت دي.

لاسي صنایع

په دغه ولایت کې ډېری لاسي صنایع له مزرو او پاڼو څخه جوړیږي، چې د ورځنیو اړتیاوو د پوره کولو په موخه ترې کار اخیستل کېږي او گټور تمامیږي، لکه د ناستې لپاره پوزي، د لمانځه مصلې یا جانمازونه، د ډوډۍ ساتلو سوزي، د ډوډۍ خوړلو شکرونه، د سامان الاتو د انتقال لپاره پونې، کشرې او ټوکرکې، لاسي ببوزي یا پکی، کړبان چې د کټونو په پوښلو کې ترې گټه اخیستل کیږي او همدارنگه د مزرو له پاڼو د ځینو ماهرو کسانو لخوا د اغوستلو جامې، د سر خولۍ او څپلۍ هم جوړیږي.

په یادو شوو لاسي صنایعو کې یوازې تر یوې کچې کړبان، پوزي او مزرینې څپلۍ د نارینه‌وو لخوا جوړیږي او نور ټول یې ښځې جوړوي او په خوست کې تر ډېره ټول لاسي صنایع په ښځو پورې اړوند دي او خلک یې په زیاته اندازه کاروي. همدارنگه شړۍ چې د پښتنو مشهور ترین پټونی گڼل کیږي هم، په خوست کې د منگلو او ځاځي میدان په سیمو کې د ښځو لخوا په لاسونو جوړیږي.

لوبې

په دغه ولایت کې خوسۍ، غېږ نیونه، تیره اچونه، چندرۍ، گام اچول او منډه وهل دودیزې لوبې دي، چې له ډېر پخوا راهیسې دود دي؛ خو والیبال، فوټبال، کرکټ، تکواندو، جیدو، وزن پورته کول، د بدن ښکلا او ځینې نورې لوبې په دغه ولایت کې مینه وال لري؛ خو په دې وروستیو کې کرکټ، فوټبال او والیبال لوبو ډېره وده کړې او مینه وال یې زیات شوي دي.

همیانی

# د لومړي کال محصلینو ته ځینې لارښوونې

لیکنه: عایشه حیدري

د پوهنتون د لومړي کال محصلین یا هغوی چې نوي د کانکور تر ازموینې وروسته د هېواد یوه پوهنتون ته لار مومي، په لومړیو کې په پوهنتون کې له زده‌کړو زړه‌توري کېږي، مینه او علاقه یې کمېږي. ډېری محصلین ځکه په لومړیو کې له ستونزو سره مخ کېږي، چې هغوی د پوهنتون له چاپېریال سره بلد نه وي.

کله چې یوه ښځینه محصله د لومړي ځل لپاره پوهنتون ته ځي، نو د نابلدتیا احساس کوي او ډېره هیجاني وي، د نجونو د ښوونځي په څېر له داسې یوه چاپېریال څخه چې هلته یوازې نجونې او مېرمنې وې، داسې یوه چاپېریال ته ورننوتل چې نجونې او هلکان پکې ګډې زده‌کړې کوي او نارینه او ښځینه استادان پکې لیکچر ورکوي، ډېر ورته نا اشنا وي.

ځینې محصلین له کورنیو لرې، له ټولګیوالو او د پوهنتون له نورو محصلینو سره د پوهنتونونو په ځانګړې لیلیه کې چې د نجونو او هلکانو لپاره جلا او ځانګړې استوګنځي لري، ژوند کوي چې دلته هم محصلین په لومړیو کې د نابلدۍ له امله له ستونزو سره مخ کېږي، خو باید محصلین خپل ځان کې د پیاوړو ټولنیزو اړیکو جوړولو وړتیا پیدا او ځان ته ملګري ومومي.

همدارنګه یو بل بنسټیز بدلون چې د ښوونځي او پوهنتون تر منځ شته، هغه د زده‌کړو په برخه کې دی، ځکه په پوهنتون کې نور محصلین تر ډېره د مور او پلار تر نظر لاندې نه وي، محصلین د پوهنتون پر مهال اړ دي چې د میندو او پلرونو له فشار او یادونې پرته، په خپلواک ډول اغېزمنه مطالعه وکړي.

په دې لیکنه کې مو د اغېزمنې مطالعې او په ټوله کې د پوهنتون له دورې د خوند اخیستنې په اړه ځینې اړین ټکي را ټول کړي دي چې د پوهنتون د لومړي کال محصلینو او یا هغوی ته چې په راتلونکي کې لوړو زده‌کړو ته مخه کوي، ډېر اړین دي.

ملتیا مو وکړئ!

لومړی- د استاد د لیکچر پر مهال یادښتونه ولیکئ!

که څه هم د نوټ اخیستل د ښوونځي په دوره کې هم اړین دي او ډېری زده‌کوونکي په ښوونځي کې هم په یادښت لیکلو روږدي دي، خو د پوهنتون په دوره کې د نوټونو اخیستل ډېر زیات اړین دي، ځکه له یوې خوا د پوهنتون د درسونو حجم ډېر وي، له بل لوري په پوهنتون کې ډېری مهال د یوه مضمون مشخص او ځانګړی کتاب نه وي چې محصلین یې ولولي او زده‌کړه ترې وکړي.

په پوهنتون کې پروفیسور یا استاد د یوه ځانګړي مضمون، د ځانګړي موضوع په تړاو څو ساعته لیکچر ور کوي او د همدغه لیکچر سرچینې او ماخذونه له محصلینو سره شریکوي او دغه لیکچر له یوه مشخص کتاب څخه نه وړاندې کېږي. نو که محصلین د لیکچر پر مهال یادښتونه ونه لیکي، وروسته به د درس زده‌کړه او مطالعه ورته ستونزمنه وي.

یاد مو وي چې د یادښتونو لیکلو پر مهال مشخص، ځانګړي او شمېرلي کلمات او موضوعات ولیکئ او له ډېر اوږد یادښت څخه ډډه وکړئ.

دویم - لومړی بنسټیز او ټولیز مفهوم زده کړئ!

که په لومړي ټولګي کې یاست، په خورا پېچلو او سختو موضوعاتو کې ځان مه راګیر کوئ. په لومړي ټولګي کې بنسټیز موضوعات تدریسېږي او زده‌کړه یې په لومړي ټولګي کې اړینه ده، نو ځکه د داسې موضوعاتو لوست ته مخه مه کوئ چې ډېر پېچلي دي. د بېلګې په ډول، د پښتو ادبیاتو د لومړي کال محصل د دویم یا درېیم کال د فونیټیک یا غړپوهنې کتاب راخیستی او مطالعې ته یې ملا تړلې ده، په داسې حال کې چې د دې کتاب لوست اوس دغه محصل ته هېڅ ګټه نه کوي.

درېیم – ډله‌ییزه مطالعه و کړئ!

ګروپي زده‌کړه، ډېره مهمه ده. اورمرو یو څوک ومومئ چې له تاسو سره په ګډه مطالعه وکړي. ځینې زده‌کوونکي فکر کوي چې ګروپي زده‌کړه ورته ګټوره نه ده، خو دا سمه خبره نه ده او که همدغه زده کوونکي هم ګروپي زده‌کړه و ازمویي، نو په ګټو به یې پوه شي. خو پام مو وي چې د مطالعې لپاره د ډلې جوړولو کې ډېر زیات غور پکار دی، باید داسې کسان وټاکئ چې په ګروپ کې د زده‌کړې مینه ولري او ستاسو د وخت د ضایع کولو سبب نه شي، ځکه ځینې زده‌کوونکي له لومړۍ ورځې د ټوکو او ساعتېرۍ په موخه پوهنتون ته راځي او څه موده وروسته یې د پوهنتون لنډ عمر پای ته رسېږي.

څلورم – د مطالعې په لارو چارو کې بدلون راولئ!

کېدای شي تاسو د کتاب لوست پر بنسټ زده‌کړه او مطالعه کوی، خو کله کله کولای شی خپل یادښتونه او یا د استاد لیکچرونه ثبت او ریکارډ کړئ، بیا دغه ثبت شوي موضوعات پر لاره د پلي مزل پر مهال، سهار وختي د منډې او ورزش پر مهال او یا هم بل هر وخت چې تاسو یې مناسب ګڼئ واورئ.

پنځم- یو څوک ومومئ چې ستاسو زده‌کړه وازمويي!

د ملګرو یا ټولګیوالو له ډلې له یوه تن څخه وغواړئ چې تاسو وازمایي. د خپلو ملګرو له لوري ستاسو د زده‌کړې له ازمېښت څخه مه وېرېږئ، په یاد ولرئ چې هر انسان نیمګړی دی او تېروتنه کوي او له بل لوري تاسو په رښتینې ازموینه کې نه یاست، یوازې هڅه کوی هغه څه مو چې لوستي، زده شوي مو دي او که نه. کېدای شي هغه پوښتنه چې ستاسو ملګری یې په دغې تمثیلي ازموینه کې له تاسو کوي او تاسو ناسم ځواب ورکوی، وروسته په ازموینه کې هم راشي او هغه وخت به ستاسو د پوښتنې سم ځواب زده وي.

شپږم - په تخت، کټ یا خوبځای کې مطالعه مه کوئ!

موږ پوهېږو چې ستړي یاستی، ټوله ورځ مو د کتابونو پنډ درسره دی او پلی مزل مو کړی، سر مو ګنګس دی او اوس بیا هم د لرګي په چوکۍ یا پر ځمکه د قالینې له پاسه ناست یاستی، خو زړه مو غواړي چې د خوب ځای ته لاړ شی او هلته په خپل کټ کېنی او مطالعې ته دوام ورکړی. خو کله چې تخت یا خوب ځای ته ځی، زړه مو غواړي و غځېږی او بیا چې کله سترګې پرانیزی، نو سبا دی او تاسو خپله یوه ورځ ضایع کړې ده. نو په یاد ولرئ چې په تخت او خوبځای کې له مطالعې ډډه وکړئ!

اووم – دمه مه هېروئ!

وخت سره زر دی، خو موږ او تاسو په څېر محصلینو لپاره تر الماسو هم لوړ ارزښت لري، خو د زده‌کړې ترمنځ دمه هم ډېره اړینه ده او د زده‌کړې پر کیفیت خورا ژور اغېز لري. هر ۳۰ دقیقې وروسته ۳ یا ۴ دقیقې دمه وکړئ، پر څلورم وار د دمې اوږدوالی ۴ نه تر ۵ دقیقو پورته یوسئ. چای، قهوه او یا اوبه وڅښئ، د دمې وخت کې له کتابونو لرې لاړ شئ. خو یاد مو وي چې د درس ترمنځ ټولنیزو شبکو لکه فېسبوک، انسټاګرام، نیټ فلیکس Netflix او نورو ته مه ورننوځئ، ځکه کېدای شي ۵ دقیقې دمه او تفریح به مو د یوه اوږده سینمایي فلم په لیدو واوړي.

اتم – ځان ونازوئ!

کله مو چې په زده‌کړو کې د پام وړ پرمختګ وکړ، نو ځان ته له وړاندې په پام کې نیول شوې ډالۍ ورکړئ! فکر وکړئ چې د حقوقو پوهنځي د لومړي کال محصل یاست او د حقوقو مبادي (بنسټونو) یو لوی څپرکی مو مطالعه او زده کړ. کولای شی له ملګرو سره د فوټبال یوه لوبه او شطرنج وکړی، یا هم یوه علمي ډاکیومنټري وګوری. خو په یاد مو وي چې یوازې د لویو لاسته‌راوړنو په بدل کې ځان ونازوئ! د کتاب د هرې پاڼې تر لوست وروسته نه.

نهم – د مطالعې مناسب وخت په نښه کړئ!

که پوهېږی چې خوب مو درووند دی او سبا سهار وختي د مطالعې لپاره نه شی را ویښېدای، نو بیا یې هڅه مه کوئ، ځکه سهار وختي پاڅېدو کې بیا بیا ناکامي ستاسو په زیان ده، د دې پر ځای هڅه وکړئ چې د شپې مطالعه وکړئ او خپل درسونه او کارونه سهار ته مه پرېږدئ. زما موخه دا ده چې تاسو هغه وخت ومومئ چې ستاسو لپاره غوره وي. ځینې تر نیمې شپې ویښ پاتې کېدای شي او ځینې نور بیا د ملا له اذانونو سره له خوبه د را ویښېدو عادت لري. په هر ډله کې چې تاسو راځی، هماغه وخت په نښه کړئ او هڅه مه کوئ چې ځان په بلې ډلې کې راولئ.

## سپېدار: طالبان دې له خپل اړخه داسې اقدامات وکړي چې د بین الافغاني خبرو پیل ته زمینه برابره شي

د ملي مصالحې عالي شورا وایي، طالبان باید داسې ګامونه پورته کړي چې د افغانانو ترمنځ د مذاکرې د پیل لپاره زمینه برابره کړي.

ټاکل شوې وه، دغه مذاکرات تېره اونۍ په دوحه کې پیل شي، خو د حکومت او طالبانو د بندیانو د ازادولو بهیر د نه بشپړېدو له امله دا پروسه تر نامالومې مودې ځنډېدلې ده.

د مصالحې عالي شورا ویاند فریدون خوځون وایي: «طالبان باید داسې اقدامات وکړي چې د مذاکرې د پیل لپاره زمینه برابره شي او طالبان باید پر یوې نېټې سره سلا شي.»

دا په داسې حال کې ده چې حکومت د ۴۰۰ لانجمنو طالب بندیانو له ډلې یوازې ۸۰ تنه یې ازاد کړي او له طالبانو یې غوښتي چې هغه ګوماندیې ځواکونه چې له دوی سره په بند کې دي، ازاد کړي.

د حکومت له خوا د طالب بندیانو د خلاصون بهیر درېدل او د شپږو طالب بندیانو په اړه د ځینو بهرنیو هېوادونو ملاحظه، په ښکاره د افغانانو ترمنځ د خبرو اترو د پیل پر وړاندې دوې ستونزې شمېرل کېږي چې دغه بهیر یې ځندولی دی.



د بندیانو د خوشي کېدو په تړاو د مشورتي لویې جرګې او د ولسمشر له فرمان نه د نږدې دوو اونیو په تېرېدو سره، حکومت لا هم د بندیانو د خوشي کېدو لپاره پر خپلو غوښتنو ټینګار کوي. تر دې وړاندې د ولسمشر د ملي امنیت سلاکار ویلي وو چې طالبان باید هغه کوماندویان او پیلوټان ازاد کړي چې ورسره یرغمل دي.

طالبان د دغو بندیانو د شمېر او هویت په تړاو معلومات نه ورکوي، خو وایي چې د افغان ځواکونو د زرو بندیانو د خوشي کېدو په برخه کې یې خپله ژمنه عملي کړې ده.

په ورته وخت کې د شپږو هغو طالب بندیانو پر خوشي کېدو د استرالیا او فرانسې ملاحظه چې د دغو هېوادونو د وګړو پر وژلو تورن دي؛ د دغه بهیر پر وړاندې یو بل خنډ دی.

بلخوا سیاسیون او پخواني جهادي چارواکي وایي چې حکومت دې د بندیانو د خوشې کېدو پروسه نه ځنډوي او ژر تر ژره دې بین الافغاني خبرو ته لاره هواره کړي. پخوانی طالب چارواکی سید اکبر اغا وایي: «په خپله افغانان دې هوکړه وکړي. د فرانسې د ملاحظې مسئله ده چې هغوی زموږ هېواد ته د جګړې لپاره راغلي وو.»

د څلور سوه طالب بندیانو د خوشي کېدو لپاره د لویې جرګې له پرېکړې وروسته ولسمشر هم د دغو بندیانو د خوشي کېدو فرمان صادر کړ، خو د شاوخوا ۸۰ تنو دغو بندیانو له خوشي کېدو وروسته دا بهیر ودرول شو. دغه کار د ولسمشر د فرمان د عملي کېدو څرنګوالی هم له پوښتنو سره مخ کړی دی.

حقوق پوه سبحان مصباح په دې اړه وایي: «افغان حکومت مکلف دی هغه فرمانونه چې د ولسمشر له خوا صادرېږي، عملي کړي.»

د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد هم ویلي چې د بین الافغاني خبرو د پیلېدو ځنډ ته هېڅ مشروع پلمه پاتې نه ده.

اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷ |
| € | ۸۹ |
| Rp. | ٤٥٣ |
| ₹ | ۱۰٤۰ |
| ¥ | ۱۰,۵۰ |
| £ | ۹۷,۳۰ |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

مسیر ورځپانه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**ایډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري

**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

دوشنبه د ۱۳۹۹ د وږي درېیمه | د ۲۰۲۰ د اګسټ ۲٤مه | ۵۸۵یمه ګڼه
www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۵ | ۳۷ | ۳۸ | ۳۹ | ۳۸ | ۳٤ |
| ۱۸ | ۲٤ | ۲۲ | ۲۵ | ۲٤ | ۲۱ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۵۲ | لمر ختل ۰۵:۲۰ | ماسپښین ۱۱:۵۷ | مازیګر ۰۳:۳۷ | ماښام ۰٦:۳۲ | ماخوستن ۰۸:۰۱

## نړۍ




## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا ویروس له کبله د مړو شمېر تر اتو سوو زرو واوښت



د تازه شمېرو له مخې، په ټوله نړۍ کې کرونا ویروس مثبتې پېښې ۲۳ میلیونو او ۴۰۸ زرو او ۴٦۵ ته رسېدلې دي. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې دمه ۸۰۹ زره او ۹۸ تنه مړه شوي او شاوخوا ۱٦ میلیونه نور ترې بېرته رغېدلي دي.
د دغو شمېرو پر اساس، د امریکا متحده ایالتونه د کرونا د ډېرو قربانیانو او مثبتو پېښو له کبله د نړۍ تر ټول مخکښ هېواد دی. په دغه هېواد کې د یاد ویروس مثبتې پېښې پنځه میلیونه او ۸۴۲ زره او ۱۴۷ ته رسېدلي او ۱۸۰ زره او ۱۹۱ امریکایان ترې مړه شوي دي.
تر امریکا وروسته برازیل د درې میلیونه او ۵۸۲زره او ٦۹۸ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، هند د درې میلیونه او ۵۰ زره او ۳۲٦ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، روسیه د ۹۵٦ زره او ۷۴۹ مثبتو پېښو له اړخه څلورم او جنوبي افریقا د ٦۰۷ زره او ۴۵ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د یاد ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.
دغه راز پېرو، مکسیکو، کولمبیا، هسپانیا او چیلي په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا ویروس له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## راپورونه: د امریکا تر مشرۍ لاندې بهرني ځواکونه د عراق له تاجي پوځي اډې څخه وتلي دي

د راپورونو له مخې، د امریکا تر مشرۍ لاندې بهرني ځواکونه د عراق له تاجي پوځي اډې څخه وتلي دي.
دا لویه نظامي اډه د عراق د پلازمېنې بغداد په ۲۰ کیلو مترۍ کې پرته ده چې په دې وروستیو کې پرې راکټي بریدونه ډېر شوي وو. چارواکي وایي چې ټول بهرني پوځیان له دې اډې وتلي او یاد مرکز اوسهال عراقي ځواکونو ته سپارل شوی دی. په ورته وخت کې په عراق کې نړیوال ائتلاف هم په یوه اعلامیه کې ویلي چې ځواکونه یې د دغه هېواد له حکومت سره په همغږۍ له دې اډې ایستلي دي. په دغه اعلامیه کې راغلي چې تر دوو زرو بهرني ځواکونه په دې اډه کې مېشت وو چې ډېری یې روان اوړی وتلي او د اډې مسوولیت یې عراقي پوځیانو ته سپارلی دی. دا په داسې حال کې ده چې د عراق پارلمان تېر کال پرېکړه وکړه چې ټول بهرني ځواکونه باید په بېړنۍ توګه له دغه هېواده ووځي. په ورته وخت کې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ هم ویلي چې په سیمه کې وضعیت ته په کتو به خپل ځواکونه له عراق څخه راوباسي.
د راپورونو له مخې، اوسمهال په عراق کې نږدې اووه زره امریکایي او نور بهرني سرتېري مېشت دي چې شمېر یې ورځ تر بلې کمېږي.


## مقام‌های محلی: طالبان ماهانه میلیون‌ها افغانی را از استخراج معادن در ولایت بدخشان به دست می‌آورند



مقام‌های محلی در ولایت بدخشان می‌گویند که طالبان در این ولایت ماهانه میلیون‌ها افغانی از استخراج غیرقانونی معادن طلا پول به دست می‌آورند. به گفته آن‌ها، گروه طالبان با درآمد معادن، منابع مالی و تجهیزات جنگی خود را در سطح کشور تأمین می‌کند. مقام‌های محلی بدخشان درآمد گروه طالبان از استخراج طلای راغستان را نگران‌کننده می‌دانند و هشدار می‌دهندکه این امر باعث افزایش ناامنی در این ولایت می‌شود. حسیب‌الله باشنده ولسوالی راغستان کارمند دولتی در فیض‌آباد می‌گوید که گروه طالبان ماشین‌های پیشرفته‌ای برای استخراج طلا به کار انداخته و کارگران هم بابت استخراج طلا وجوه شرعی می‌گیرد. به گفته او، هر کارگر در پایان روز مجبور به پرداخت یک‌پنجم طلای استخراجی خود به طالبان است. حسیب‌الله گفته است: «از زمانی که طالبان در ولسوالی راغستان حاکمیت پیدا کرده‌اند، مناطقی را که معادن دارد، زیر کنترول خود گرفتند. کارگران عادی که در آن جا طلا کار می کنند، روزانه در پایان کار باید به طالبان حق بدهند. هر کارگر از پنج گرام یک گرام به طالبان می‌دهند.»
عبدالبصیر حقجور، آگاه اقتصادی در بدخشان می‌گوید که طالبان بدخشانی در کنار این که از بیرون کشور پول به دست می‌آورند، از استخراج معادن طلای راغستان و یفتل بالا روزانه پول هنگفتی به دست می‌آورند و سلاح و تجهیزات نظامی می‌خرند.
با این حال، محمد ذکریا سودا، والی بدخشان می‌گوید که گروه طالبان ماهانه میلیون‌ها افغانی بابت استخراج طلا به دست می‌آورند و جبهه‌های جنگی خود را تقویت می کنند.

## ژوند


## د (نه) ویل زده کړئ




سټیو جابز وایي: «د اپل شرکت د بریا راز په (نه) ویلو کې و». د نه ویلو تمرین وکړئ. که پوهېږئ چې د زیاتو مسوولیتونو در په غاړه کول ستاسو په عوایدو کې زیاتوالی نه را ولي، (نه) ورته ووایئ. په هغه څه پانګونه وکړئ، چې ستاسو د عوایدو د زیاتوالي لامل ګرځي. په موقع (نه) ووایئ او له بېځایه وخت تېرولو ډډه وکړئ. له کاروباریانو سره ناسته پاسته زیاته کړئ. یوه څه ته مو باید پام وي چې ستاسو کړنې ډېری وخت هغه چا ته ورته کېږي، چې ناسته ولاړه ور سره لرئ. که خپل ډېر وخت له کاروباري خلکو سره تېر کړئ، د هغوی فکر په سم ډول درک کولی شئ. تاسو په دې پوهېږئ چې دوی څه ډول توانېدلي، چې تر دې کچې شتمن شي. له دې ډول رازونو څخه ځان خبرول د دې لامل کېږي، چې ستاسو په عوایدو کې هم زیاتوالی را شي.

## د شیاومي کمپنۍ نوی ځیرک تلوېزیون

شیاومي کمپنۍ چې نړۍ کې د غوره ځانګړنې او ارزانه بیه لرونکو ځیرکو موبایلونو له امله شهرت لري، اوس د ځیرکو تلوېزیونونو په برخه کې هم په چټکۍ سره په ځانګړي نوم او معیار بدله شوې. شیاومي کمپنۍ د خپلې لسمې کلیزې په ویاړ نوی پیاوړی ځانګړنې لرونکی ځیرک موبایل، شیاومي مي ۱۰ الټرا مینه والو ته معرفي کړ. شیاومي کمپنۍ د خپل دغه ځیرک موبایل تر څنګ یو حیرانوونکی په بشپړه توګه شفافه مخ‌پاڼه لرونکی ځیرک تلوېزیون هم معرفي کړ. مي ټي وي لکس اولېډ ټرانسپیرېنټ اډېشن (Mi TV LUX OLED Transparent Edition) نومی دغه ځیرک تلوېزیون کله چې بند شي، نو مخ‌پاڼه یې د عادي ښیښې



په څېر ښکاري. د دغه ځیرک تلوېزیون مخ‌پاڼه د نورو پیاوړو ځانګړنو او د تصویر لوړ کیفیت تر څنګ، له ۱۲۰ هرتز ریفرش رېټ، ۱۰ بېټ کلر ډېپت او ای اېم اېس رېسپانس ټایم څخه هم ملاتړ کوي. دغه ځیرک تلوېزیون د اګست په ۱٦مه په پیل کې یوازې په چین کې خرڅلاو ته وړاندې شو او بیه یې ۵۰۰۰۰ چینایي یوان (تقریباً ۵۵۵۰۰۰ افغانۍ) ټاکل شوې ده.

ماستر ډېبټ کارت
د عزیزي بانک ماستر ډېبټ کارت له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتیاوو او شرایطو سره سم ډیزاین شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پیسو ته لاسرسی لرلی شئ.
• په ټوله نړۍ کې له 25 میلیون ډېرو سوداګریزو مرکزونو/پلورنځیونو کې د منل کېدو وړتیا لري.
• د دې لپاره چې ژر پیسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشینونو ګټه اخیستلی شئ.
www.azizibank.af 1515

عزیزي بانک
Azizi Bank